# زه ترې پوزه پريکوم

# دا را نه نتکۍ غواړي

نورالوهاب

د پښتــو ژبې ليکوال او پوهان چغې وهي او په ليکلو سترې شول چې د ماشومانو تعليم دې پـه مـورنۍ ژبه کېښې شي. ځکه چې د نړۍ پوهان ټـول پـه دې خبـره يـو خـله دي چې د ماشوم لپاره تـعـليـم په مورنۍ ژبه کښې پکار دے. ځکه چې دې سره تـحـليـقي سوچ پېدا کېږي. زده کړه پـه آسانه کوي. نورې ژبې ورسره زده کولے شي.

هـم دغه وجه ده چې دغه پوهان د حکومت نـه وخـت په وخت غوښتنه کوي چې په هر سکول کښې دې پښتــو پـــه لازمـي توګـه ښودلے کېږي. مـاهـر استاذان دې واخلي. دا دې دفتري ژبه جوړه کړے شي. او تجارتي ژبه دې جوړه کړے شي.

خـو د پښتــو يو متل دے وائي ,, زۀ ترې پوه پريکوم او دا را نه نتکۍ غواړي،،.

حــکــومـت د دې پـــه ضـد د پښتـو ژبې ختـمـولـو کـوشش کوي او د دې غټ ثبوت ئې په خپلــه ورکړو. چې د پيـنځـم جـماعت د بورډ پـه امتـحـان کښې د پـرائيـويټ سکولونو نه د پښتو پـــرچـــه شـــامـــل نۀ کړه. وئيلے کېږي چې دا ئې د پـرائيـويټ سکولو د احتجاج نه وروستو کېنسل کړه ځـکـه چې په اکثره پرائيويټ سکولونو کښې پښتو نۀ ښودلے کېږي. باوجود د دې چې زمونږ په صـوبـائـي اسمبلۍ کښې د يو بل لاندې دا لازمي مضمون ګرځولے شوے دے.

زۀ نۀ پوهېږم چې زمونږ صوبائي حکومت د نړۍ د پـوهـانو او ليکوالو نه زياته پوهه لري او کـنـه په دې اړه هڅو د څه نه خبر نۀ دي. چې ګڼې د مورنۍ ژبې هم څه اهميت وي.

د حکومت مقصد کۀ هر څه وي خو زما په نـظـر کښې دا د يـو مـاشوم نه د مور غېږ جدا کول دي. پښتون قوم تيارو اړخ ته بوتلل دي.

د پښتــو ژبې سـره د مېرې مور سلوک او دښـمـنـي کول دي. د حکومت له اړخه د پرائيويټ سـکول ماشومانو نه د پښتو پرچه نۀ اخستل دا هم پـه ډاګـه کـوي چې د دوي پـه دغـه سـکـولونو څه قسـمه کنټرول نۀ شته او دا صرف په نوم حکومت

دے.

زۀ د پښتـونخوا د ټولو پوهانو او ليکوالو نـه طـمـع لـرم چې هغوي به په دې اړه خپـل سخت احتجاج ريکارډ کړي.

دا خـاوره زمـونږ ده. دا قام زمونږ دے. دا بـچـي زمونږ دي. او د دې سره دښمني کول زمونږ ټولو سره دښمني کول دي.

پـه دې اړه مونږ شوک هم دومره خودسرۍ ته نۀ شو پريښودے چې هغوي دې زمونږ نه زمونږ ژبه پرې کړي.

زۀ غـوښتنه کوم چې حکومت دې په ټولو تـعـليمي مدرسو کښې د پښتو مضمون د ښودنې لپـاره کوټلي اقدامات وکړي. او کۀ پښتو ژبې ته وده نۀ شـي ورکـولے نـو د دښـمنۍ نـه دې هم ډډه وکړي.

پښتـو زمونږ عزت دے. زمونږ پېژندګلو ده او زمونږ پوزه ده.

نـتـکۍ دې را له نۀ اخلي خو زمونږ نه دې زمونږ پوزه نۀ پريکوي.

هيڅ ذاتي غرض مې نشته په نظر کښې
کۀ څـوک وائي زۀ پرې هر رنګه قسم خورم

مـــا خـوړلے د پښتـــو د ســره نۀ ده
زۀ کۀ خورم نو همېشه د پښتو غم خورم

زيار

☆☆☆

## تعزيت

په ډېر افسوس مو دا خبر ترلاسه کړو چې محترم پروفيسر ربنواز مايل صېب زمونږ سره رشته غوسه کړه.

رب نواز مايل صېب په پښتو ادب کښې په ډېرو حوالو يو ځانګړے نوم ؤ. د هغه تخليقات نـظمونه وو کۀ نثرونه. د خالص فلسفيانه تخيل نـه جـوړ وو. د هـغـه پـه ذهـن کښې د ژوند په هر مېـدان کښې د مثبـت پـرمـختګ دپـاره آئيډيل تـصـوراتـو ته وده ورکول د وخت ضرورت ؤ. خو په موجود وخت کښې دا کمے هم ؤ چې د هغۀ دغو تصور ته لارې نۀ پېدا کېدې. او د ادب په بازار او ميـلـه کښې ايـغ نېـغ عـام فهم تصورات زيـات چـلېدل. خو د هغه دغه کاوشونه به کله خو زمونږ د ژوند د مقاصدو برخه شي.

د ربـنـواز مايل صېب ژوند د پښتو ادب دپـاره هـم لوئې تاوان دے. خو د محمود آياز او د هـغـــه د کـورنۍ د نـورو غړو سره مې زړۀ ځکـه درزېږي خـصوصاً محمود آياز ډېر زر زر او نژدې نـزدې د څـو غمونو سره مخ شو. مشر رور سعيد ګـوهـر ئې بې وختـــه مړ شو. او ورپسې د سعيد ګـوهر خوي چې پروفيسر ؤ هغه مړ شو. او دا دے د ټـولو نه مشر رور ربنواز مايل صېب ئې هم مړ شو. انا الله وانا اليه راجعون.

,,پښتـون،، اداره په دې دروند غم کښې د غـمژنې کورنۍ سره شريکه ده. خدائے دې هغوي تـــه پـــه جـنـت الـفردوس کښې مقـام ورکړي او پسمانده ګانو ته دې د زړۀ صبر آمين ثمه آمين.

(اداره)